د واقعي اسلامي نظام دحاکمیت لپاره د حقیقي انسانیت شتون شرط دی.
( شهید استاد نعمان )

# توري لکه ستوري

## غوره ويناوې


**مؤلف:**

**محمد ابدالي**


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## دکتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم:

توري لکه ستوري

ليکوال:

محمد ابدالي

تصحيح:

فضل الباري نصرت

کمپوز:

مؤلف

د چاپ شمير:

۱۰۰۰ ټوکه

دچاپ کال:

۱۳۹۸ حمل

خپرندوی:

**نصرت کتاب او قرطاسيه پلورنځی**

ادرس:نجم الجهاد فاميلي

ټيوب ويل چوک المجاهد مارکيټ

شميره:۰۷۸۷۱٦۲٦٦۵

چاپ چارې:**عنايت خپرندويه ټولنه**

اسحاق زی مارکيټ لاندې منزل جلال اباد ننګرهار

۰۷۸۸۷۷۰۷۰۸/۰۷۹۱۹۸۰۸۰۱


**بشپړ حقوق له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**قدرمنو او محترمو والدينو ته او د شهيد استاد نعمان پاک روح ته!**

**(ابدالي)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

تقريظ

الله تعالی په هره زمانه کې د هر چا څخه د خپل دين کار اخيستی، او د نيکۍ د يوه کار ذريعه يې ګرځولې ده. د اسلام مبارک دين ډېرې ځانګې لري، او د انسانانو استعدادونه او وړتياوې هم سره توپير لري، يو انسان په يو ځای او بل انسان په بل ځای کې مؤثر واقع کيږي. الله تعالی د دغه مبارک دين د ساتنې ژمنه کړې ده، نو ددغې ژمنې د پوره کولو لپاره يې ګڼ شمير بنده ګان په دندو ګمارلي دي. زړورو او سرتيرو ځوانانو باندې يې د نظامي جګړې ډګر تود ساتلی. علماء کرام يې د درس او تدريس په ګدۍ کينولي. د چا ژبې يې په دعوت او تبليغ تاندې ګرځولي. چاته يې قلم په لاس کې ورکړی، چې د دين خوږې ملغلرې د کتاب په چوکاټ کې راغونډې کړي.تر څو حاضر او راتلوونکي نسلونه ترې ګټه واخلي.

ورور محمد(ابدالي) هم ددغې لارې يو لاروی دی. ده هم قلم راپورته کړی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديثو ، صحابه کرامو رضی الله عنهم، تابعينو او نورو علماؤو غوره ويناؤو ته يې د کتاب جامه وراغوستې. او د (توري لکه ستوري) نوم يې ورته غوره کړی دی. ما ددې کتاب يو څه برخه ولوستله. نوموړي ورور د دغه کتاب په تاليف کې ډېر زيار ايستلی او دوخت د اړتيا مطابق ويناوې يې راټولې کړې دي. زه د دغه ورور دغه ليکنه اسلامي امت لپاره غوره پانګه ګڼم، او مثبته يې ارزيابي کوم. ځکه دا يو تنکی ځوان دی، او الله تعالی ورته دومره استعداد ورکړی، چې داسې يو نيک کار ته اقدام وکړي. د الله تعالی څخه ورته د لا زيات خدمت غوښتنه کوم، الله تعالی دې ورته اجر عظيم ورکړي.

استاد فريد احمد صمدي

د الفلاح پوهنتون د شرعياتو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړۍ برخه

## د مبارکو احاديثو ژباړه

ـ غوره په تاسوکې هغه څوک دی، چې دهغه اخلاق ښه وي.

(بخاري او مسلم)

ـ غوره په تاسوکې هغه څوک دی، چې قرانکريم زده کړي اونوروته يې وښايي.

(بخاري او مسلم)

ـ چغلي کوونکی به جنت ته نه داخليږي.

(بخاري او مسلم)

ـ داعمالو دار او مدار په نيت پورې تړلی دی.

(بخاري او مسلم)

ـ څوک چې په نورو رحم نه کوي، الله تعالی به په هغه رحم ونه کړي.

(بخاري او مسلم)

ـ درحمت ملايکې نه داخليږي،هغه کورته چې په هغه کې سپی او يا هم عکسونه وي.

(بخاري او مسلم )

ـ کامل مسلمان هغه دی،چې نورمسلمانان يې د ژبې اولاس له ضررڅخه خوندي وي.

(بخاري او مسلم)

ـ چاچې دوکه وکړه له موږڅخه نه دی.

(بخاري او مسلم)

ـ په دنياکې داسې ژوند تيروه لکه بې وزله اوياهم لاروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(بخاري او مسلم)

ـ دنیا دمسلمان لپاره زندان، او د کافر لپاره جنت دی.

(بخاري او مسلم)

ـ غوره په اعمالو کې هغه دی،چې همیشه وي که څه هم لږ وي.

(بخاري او مسلم)

ـ حیاء دایمان یوه څانګه ده.

(بخاري او مسلم)

ـ څوک چې دیومسلمان عیبونه پټ کړي،الله تعالی به یې په قیامت کې دده عیبونه پټ کړي.

(بخاري او مسلم)

ـ مؤمن دیوسوري څخه دوه ځلې نه چیچل کیږي.

(بخاري او مسلم)

ـ د پرتوګ یا لنګ هغه حصه چې د ښنګرو څخه لاندې وي،هغه به په دوزخ کې وي.

(بخاري او مسلم)

ـ څوک چې په الله تعالی او داخرت په ورځ ایمان لري،نو د خیر خبره دې وکړي یا دې چپ کیني،او څوک چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، نو د خپل ګاونډي عزت دې وکړي،او څوک چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، نو د میلمه قدر دې وکړي.

(بخاري او مسلم)

ـ تاسو به د قیامت په ورځ تر ټولو بد کس هغه څوک ووینئ،چې د خلکو تر منځ دوه مخي کوي.

(بخاري او مسلم)

ـ مسلمانان د یوجسد او یو بدن په شان دي.

(بخاري او مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د صلحه رحمۍ قطع کوونکی به جنت ته داخل نه شي.

(بخاري او مسلم)

ـ کامل مؤمن نه دی، هغه څوک چې زه ورته دخپل ځان، اولاد او ټولوخلکو نه ډېر ګران نه شم.

(بخاري او مسلم)

ـ د منافق درې نښې دي: ۱) کله چې خبرې کوي نو دروغ وايي. ۲) کله چې وعده وکړي وفا پرې نه کوي. ۳) کله چې امانت ورسره کیښودل شي خیانت پکې کوي.

(بخاري)

ـ هغه کس به جنت ته داخل نه شي چې، ګاونډي يې له شر څخه په امن کې نه وي.

(مسلم)

ـ الله تعالی ته خوښ ځایونه مسجدونه دي.

(مسلم)

ـ هربدعت ګمراهي ده،اوهره ګمراهي به په اورکې وي.

(مسلم)

ـ دین ټول خیرخواهي ده.

(مسلم)

ـ الله تعالی ته بد یا ناخوښ ځایونه بازارونه دي.

(مسلم)

ـ یو مسلمان دبل مسلمان ورور دی.

(مسلم)

ـ چا چې پر ما یو ځل درود ووایه، الله تعالی به پرې لس ځله رحمت نازل کړي.

(مسلم)

ـ دوه نعمتونه دي چې ډېرو خلکو پکې تاوان لیدلی: صحت او اوزګارتیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(بخاری او ترمذي)

ـ د قیامت په ورځ به ماته نزدې هغه څوک وي،چې پر ما یې ډېر درود ویلی وي.

(ترمذي)

ـ کینه نیک اعمال داسې له منځه وړي، لکه اورچې لرګي له منځه وړي.

(اوبوداؤد)

ـ مزدور ته خپله مزدوري ورکړه،مخکې له دې نه چې د هغه خوله وچه شي .

(سنن ابن ماجه)

ـ غوره ذکر (لااله الاالله) ده، اوغوره دعا (الحمدلله) ده.

(ترمذي)

ـ چاچې دکوم قوم سره مشابهت وکړ،دا دهماغه قوم څخه دی.

(ابو داؤد)

ـ دعاء دعبادت مغزدی.

(ترمذي)

ـ مجلسونه امانت دي.

(ابو داؤد)

ـ انسان به د قیامت په ورځ دهغه چاسره وي، له چاسره چې یې مینه وي.

(ترمذي)

ـ غوره په خلکو کې هغه څوک دی، چې نورو ته یې ګټه ورسیږي.

(مشکوة)

ـ د کفاروسره مخالفت وکړئ، ږیرې پریږدئ اوبریتونه کټ (کم) کړئ.

(مشکوة)

ـ که چیرته زماپه امت سختي نه وای،نومابه ورته په هرلمانځه کې دمسواک وهلو امرکړی وای.

(مشکوة)

ـ څوک چې دمشرانوعزت،اوپه کشرانوشفقت نه کوي، له موږ څخه نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مشکوة)

ـ چاته چې الله تعالی دخیراراده وکړي،نوهغه ته په دین کې پوهه ورکوي.

(مشکوة)

ـ یومسلمان دبل مسلمان لپاره آینه ده.

(مسلم)

ـ شراب دګناهونو جرړه ده.

(مشکوة)

ـ صبر د الله تعالی له طرفه دی، اوتیزي دشیطان له طرفه.

(مشکوة)

ـ څوک چې خاموش کیناست، هغه نجات پیداکړ.

(مشکوة)

ـ چاچې بغیرد الله تعالی نه قسم وکړ، نوده شرک وکړ.

(مشکوة)

ـ کله چې نا اهلو ته کار وسپارل شي،نو د قیامت انتظار کوئ.

(مشکوة)

ـــ اللـــه تعـــالی ستاسوجسمونواوشـــکلونوته نـــه ګـــوري،بلکې ستاســـې زړونواوعملونوته ګوري.

(مشکوة)

ـ څوک چې دالله تعالی څخه څه نه غواړي، نوالله تعالی ورڅخه ناراضه کیږي.

(مشکوة)

ـ د مسلمان داسلام ښایسته والی دادی، چـې هغـه څـه پریـږدي کـوم چـې بـې فایدي وي.

(مشکوة)

ـ په الله تعالی ایمان راوړل، اوجهاد کول غوره عملونه دي.

(مشکوة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لعنت دې وي،په هغه نارينه چې دښځو سره مشابهت کوي، او په هغه ښځه چې د نارينو سره مشهابت کوي.

(مشکوة)

ـ په اخره زمانه کې به انسان په ګناه فخر او په نيکيو به شرميږي.

(مشکوة)

ـ د الله تعالی خوشحالي دمور اوپلار په خوشحالۍ کې ده،اوالله تعالی خفګان دمور اوپلار په خفګان کې دی.

(رواه البيهقي)

ـ په سلام کې لومړی کس له تکبر او لويی خالي دی.

(رواه البيهقي)

ـ مسواک دخولې پاکونکی، اود الله تعالی رضا کوونکی دی.

(رواه البيهقي)

ـ حلال رزق پيداکول فرض دي، وروسته د نورو فرضو نه.

(مسند الشهاب القضاعي)

ـ پنځه مخکې دپنځونه غنيمت وګڼئ:۱) ځواني مخکې دبوډاوالي نه۲) صحت مخکې دمريضتيانه۳) مالداري مخکې دغريبی نه۴) وزګارتيا مخکې دمصر وف کيدلونه ۵) ژوند مخکې دمرګ نه.

(المستدرک للحاکم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويمه برخه

## دصحابوؤ(رضی الله عنهم)ويناوې

ـ خپلې خبرې لنډې وکړئ، ځکه چې ډېرې خبرې ستا دخبرو اهميت له منځـه وړي.

(ابوبکرصديق رضی الله عنه)

ـ دهرشي دثواب اندازه شته خو دصبرد ثواب اندازه نشته (بې ندازې اجر دی).

(ابوبکرصديق رضی الله عنه)

ـ خپله ژبه ډېر وخت انسان ته ستونزې پيښوي.

(ابوبکرصديق رضی الله عنهَ)

ـ په هغه ورځ ژړا په کارده چې، ستا په عمرکې حساب شي خونيک عمل په کې نه وي.

(ابوبکرصديق رضی الله عنه)

ـ هغه قوم بدبخته دی، چې واک يې دښځوسره وي.

(ابوبکرصديق رضی الله عنه)

ـ دعقلمند شخص يوه نښه کمې خبرې کول دي.

(ابوبکرصديق رضی الله عنه)

ـ خپل ځان اصلاح کړه چې، خلک درسره ښه وکړي.

(ابوبکر صديق رضی الله عنه)

ـ لويي په عاجزۍ کې ده.

(ابوبکرصديق رضی الله عنه)

ـ په پوهه کې لويه پوهه تقوا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

ـ دمصيبتونو مور دانسان خپلې ناوړه خبرې دي.

(ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

ـ غوره جهاد د ظالم پر وړاندې حق ويل دي.

(ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

ـ هغه خلک ولې غلامان کوئ، چې له موره ازاد پيدا شوي وي؟

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ له مرګ سره مينه وکړه، چې ژوند دې په نصيب شي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ د ايمان پوره والی په جهاد کې دی.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ خلک له حق څخه وپيژنئ،نه حق له خلکو.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ غوره عبادت دمظلوم له آه څخه ځان ساتل دي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ د انسان بهادري داده، چې خپله غوسه مهار کړي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ دوه شيان دي چې د قوم د هلاکت سبب ګرځي چې يوله هغه څخه دعالمانو خرابوالی دی.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ د اخلاص پرته علم هيڅ ګټه نه لري.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ اخلاص ديته وايي، چې انسان دخپلواعمالو بدله ونه غواړي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ د مصيبت په وخت کې صبر کول کوم تاوان، او ژړا کومه ګټه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ که ځوک زما نصیحت اوري، نو د مرګ څخه دې هیڅ شی خوښ نه ګڼي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ کوم قوم چې جهاد پرېږدي، هغه قوم ذلیله کیږي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ په تواضع اوخاکساری سره غریبان ښه ښکاري او د امیرانو او غټانو لپاره خو سره زر ده.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ د کافرانو او منافقینو خلاف په جهاد کې برخه واخلئ.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ که غواړې چې هوسایي موپه برخه شي، نوخپله ژبه دګیلو څخه وساتئ.

(ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

ـ غوره اخلاق دادي، چې دخپلو ښیګڼو بدله ونه غوښتل شي.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ امیرکه کبر وکړي بد دی،خو غریب چې کبر وکړي ډېر بد دی.

(ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

ـ که ځوان ګناه وکړي بده ده، خو که بوډا ګناه وکړي ډېره بده ده.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ ښه اخلاق دښه مؤمن صفت دی.

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه)

ـ په ځان باور دنیکمرغۍ د تهداب لومړی خښته ده.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ بدله نه اخیستل صبردی.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ له خلکو سره کم مخ کیدل ګټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ تردې مخکې چې دقوم مشران شئ،پوهه ترلاسه کړئ.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ هوښيارسړی هرڅه ته په کتلوکې عبرت حاصلوي.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ کم خوړل صحت،کم ويل حکمت او کم خوب عبادت دی.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ مه ډيره مينه کوئ، اومه ډيره کرکه.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ ډېرخندل دمرګ نه دغفلت نښه ده.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ ادب د بهترينو کمالاتو له جملې څخه دی.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ د خپل دښمن سره هم په خپله وعده وفا وکړئ.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ په نړۍ کې اتفاق ترټولو ځواکمن شی دی.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ څوک چې ډيرې ټوکې کوي، دهغه کس حياء اوعزت کميږي.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ د بدۍ په بدل کې نيکي کول غوره احسان دی.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ نېکه ښځه هغه نعمت دی، چې دايمان څخه وروسته دويم ځای لري.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ له هغه خلکوسره مشوره وکړئ، چې دالله تعالی څخه ويريږي.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دالله تعالی دمرستې اوتوفيق څخه پرته هرنيک کار ناممکن دی.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ د انسان ټولې هيلې په دنيا کې هيڅ کله نه پوره کيږي.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ انسان په لمونځ او روژې نه پيژندل کيږي، بلکې په معاملاتو پيژندل کبږي.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ پوهه په عمر پورې اړه نه لري، بلکې دالله تعالی پيرزوينه ده چې چاته يې خوښه شي ورکوي يې.
(عمر فاروق رضی الله عنه)
ـ داسې کارونه کوئ، چې خلک مو ووينې خجالت نه شئ.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ ډيره خندا ژوند لنډوي.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ څوک چې ځان جنتي ګڼي هغه دوزخي دی.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ د ظالم ښښل دمظلومانوسره زياتی دی.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ څوک چې بد نه پيژني، هغه پکې مبتلا کيږي.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ عدل د مظلوم لپاره جنت او د ظالم لپاره دوزخ دی.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ مرګ يادول غوره نصيحت دی.
(عمرفاروق رضی الله عنه)
ـ درې شيان د مينې په زياتولو کې مرسته کوي:
۱) سلام اچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) په مجلس کې نورو ته ځای پرېښودل.

۳) خپل مخاطب په ښه نوم يادول.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ څوک چې ځان ته عالم وايي، هغه جاهل دی.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ ډېر پورونه مه اخلئ، ترڅومو ژوند ارام تيرشي.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ د عالم سره يوساعت خبرې د کلونو د مطالعې نه غوره دي.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ د بد اخلاقه انسان له دوستۍ څخه ځان وساتئ.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ څوک چې زموږعيبونه راښايي، الله تعالی دې پرې رحم وکړي.

(عمرفاروق رضی الله عنه)

ـ الله تعالی هميشه حاضر ګڼل غوره ايمان دی.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ په کراره خبرې کول،ښکته کتل اوميانه روي ايماني نښې دي.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ الله تعالی په هروخت کې حاضر ګڼل د ايمان نښه ده.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ هغه خلک چې دغريب پوښتنه کوي،په جاموکې پيوند لګوي اوخپل بوټان اوڅپلۍ په خپله سموي دکبرڅخه خالي دي.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ کله چې ژبه اصلاح شي، زړه خپله اصلاح کيږي.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ د نعمت بې ځايه مصرف ناشکري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(عثمان رضی الله عنه)

ـ ای انسانه! که ته دالله تعالی لـويي نـه بيـانوې نودهغـه پيـداکړي نعمتونـه مـه استعمالوه.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ څوک چې دکال په اوږدوکې تکليف ونه گوري، نوهغه دی په دې پوه شي چې الله تعالی ترې خفه دی.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ د هغه چاپه حالت افسوس کوم، چې په جنت ايمان لري او بياهم ځان په دنيا کې ارام محسوسوي.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ که سترگې روښانه کړو، هره ورځ د محشرده.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ غوسه هميشه دناپوهی څخه شروع کيږي اوپه پښيمانی پای ته رسيږي.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ چوپتيا دغوسي لپاره غوره درملنه ده.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ په کوم علم چې عمل ونه شي، هغه دوخت مصرفول دي.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ د نيکو اخلاقو ثمره خوشحالي ده.

(عثمان رضی الله عنه)

ـ د هغې غريبی شکراداکړه چې عزت پکې محفوظ وي،ترهغـه اميـری غـوره ده کوم کې چې ذلت او رسوائي وي.

(علي رضی الله عنه)

ـ کله چې تاسې د دنيا دمفلسی څخه تنگ شئ، اود رزق پيـداکولولاره هـم نـه وي،نوصدقه ورکړئ، اودالله تعالی سره تجارت وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(علي رضی الله عنه)

ـ د چا چې درسره ربښتيني مينه وي، هغه تا له بيکاره کارونوڅخه ژغوري.

(علي رضی الله عنه)

ـ د يوچامينه اواخلاص دهغه کس بې عقلي مه گڼه،کنه يوه ورځ به مينه او اخلاص پسې گرځې خلک به تا بې عقل بولي.

(علي رضی الله عنه)

ـ خوشبخته به داخرت غم خوري، اوبدبخته به ددنيا غم خوري.

(علي رضی الله عنه)

ـ دغم په وخت کې هيڅ کله هم داسې فکرمه کوه، چې کوم ملگری به مې په کار راځي،بلکې داسې فکرکوه چې کوم ملگری به مې پريږدي.

(علي رضی الله عنه)

ـ کله چې عقل پوره شي،نوخبرې کمې شي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د زړه ترټولو لوی مرض حسد دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ د نوروپه حال سوچ کول، دځان لپاره نصيحت دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ که ښه دوست هرڅومره بدشي دوستي مه ورسره پريږده، ځکه که اوبه هرڅومره چټلې شي، اور پرې مړکيږي.

(علي رضی الله عنه)

ـ نيکي کوه،نيکي به ووينې.

(علي رضی الله عنه)

ـ د ژوند هره ورځ اخري ورځ وگڼه.

(علي رضی الله عنه)

ـ زغم زينت ،وفا ځوانمردي ،او اړيکې ساتل نعمت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(علي رضی الله عنه)

ـ زه د مشرانو عزت په دې خاطر کوم چې د هغوی نیکـي زمـا څخـه زياتـه ده، او په کشرانو په دې خاطر شفقت کوم چې د هغوی گناه له ما څخه کمه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ ما ته په گل اومورکې هیڅ فرق نه ښکاري.

(علي رضی الله عنه)

ـ په گناه دشرمیدلو احساس کول انسان له گناه څخه ساتي،په نیکۍ غرورکول نیکي له منځه وړي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د سړي وړتيا دهغه دژبې لاندې پټه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ بهادر انسان هغه دی، چې د گناهونوڅخه پاک وي.

(علي رضی الله عنه)

ـ په خپله ځوانۍ اوقوت ونه غولیږئ، ځکه دا ژر پناه کیدونکي دي.

(علي رضی الله عنه)

ـ عبادت ترټولو غوره سرمایه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ د بیړي نتیجه پیښماني ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ ډېرخندل دانسان قدر کموي.

(علي رضی الله عنه)

ـ ښایست دالله تعالی غوره نعمت دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ غریب هغه دی چې دوستان ونه لري.

(علي رضی الله عنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د ناپوه چوپتيا دهغه دعيبونو پرده ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ د دوه شيانوپه اخيستلوکې دډېر نرخ پروا مه کوه:

۱)هغه کتاب چې خوښ دې شي.

۲)هغه درمل چې تاته ګټه رسوي.

(علي رضی الله عنه)

ـ مخکې له دې چې بوډا شې علم زده کړه.

(علي رضی الله عنه)

ـ علم يو بې زواله دولت دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ که غلامې عيب نه شي،نوبيا هيڅ شی عيب نه دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ تر ټولوغوره عبادت صدقه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ د مظلوم دښيرا څخه ځان وژغوره، ځکه د مظلوم ښيرا اسمان ته دشغلي په څير ځي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د علم طلب دنفل لمونځ نه غوره دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ غوره علم هغه دی، چې تاسې اصلاح کړي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د هرچا دايمان معلومات دهغه له وعدو څخه کيږي.

(علي رضی الله عنه)

ـ مؤمن نرم خويه او د تکبرڅخه خالي وي.

(علي رضی الله عنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مؤمن دخپل عمل په اساس مؤمن وي.

(علي رضی الله عنه)

ـ په نړۍ کې ترټولو ګران کار دځان اصلاح ده او اسان کار بل ته ګوته نیول دي.

(علي رضی الله عنه)

ـ زه تعجب کوم چې په خپل ژوند اختیارنه لري، خوبیا هم اوږده امیدونه ساتي.

(علي رضی الله عنه)

ـ خپله ژبه دخپلې مور په وړاندې تیزه مه استعمالوه، ځکه تاته خبرې مور درښودلي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د خپل توان څخه زیات کارو مه کوه، اودومره هم مه بې همته کیږه چې خپله سستي دې بل چاته احتیاج کړي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د کبرجنو خلکو ملاقات ته ورتلل دځان دعزت کمول دي.

(علي رضی الله عنه)

ـ په کوم ځای کې چې ستا عزت نه کیږي هلته مه ورځه، که څه هم هلته تاته دسروزرو په کاسه کې ډوډۍ درکول کیږي.

(علي رضی الله عنه)

ـ کله چې وغواړم رب سره مې خبرې وکړم، نولمونځ کوم او کله چې وغواړم الله راسره خبرې وکړي، نو دقران کریم تلاوت کوم.

(علي رضی الله عنه)

ـ غوره کمال عبادت اوغوره عبادت صدقه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ د مؤمن لپاره هغه ورځ اختر ده، چې نوموړی پکې دالله تعالی نافرماني ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(علي رضی الله عنه)

ـ ترټولو غوره دینداري ایمان درلودل دي.

(علي رضی الله عنه)

ـ ترڅو چې ستا په وجود کې د انسانیت شرف موجود وي، باید دظلم مخنیـوی وکړې.

(علي رضی الله عنه)

ـ بداخلاقي دوحشت او نفرت لامل کرځي، او دا لاعلاجه مرض دی.

(علي رضی الله عنه)

ـ د وېرې په وخت کې حق خبره کول دریښتیني ایمان نښه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ د ټولو نه غوره وخت هغه دی، چې په لمانځه کې تیرشي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د انسان قابلیت دژبې ترشاه وي.

(علي رضی الله عنه)

ـ درواغجن هیڅکله د لوړې درجې خاوند نه شي کیدای.

(علي رضی الله عنه)

ـ یوچاته لاره ښودل صدقه ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ ریښنینی دوست هغه دی، چې په سخته کې ستا له حال څخه ځان خبرکړي.

(علي رضی الله عنه)

ـ د دوښمن سره احسان کول لویه نیکي ده.

(علي رضی الله عنه)

ـ انسان چې په خپله بیدار نه وي، هغه ته پیره دارهیڅ ګټه نه شي رسولی.

(علي رضی الله عنه)

ـ تکبر دهغه چا سره ښایي چې مرګ ورته نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(علي رضی الله عنه)

ـ د جهالت درې نښې دي ۱) خپل ځان غوره ګڼل ۲) فضول خبرې کول۳) په خپل نصيحت پخپله عمل نه کول.

(ابودردا رضی الله عنه)

ـ که چيرې يوکمزوری سړی ستا بې عزتي وکړي،نوښښنه ورته وکړه ځکه ښښنه کول دبهادرو خلکوصفت دی.

(سلمان فارسي رضی الله عنه)

ـ شکرايستل نيم ايمان دی.

(عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه)

ـ درې شيان دانسان دهلاکت سبب ګرځي:

۱) غرور

۲) حرص

۳) کينه

(حسين رضی الله عنه)

ـ د خپل ځان ستايل دهلاکت لومړی عامل دی.

(حسن رضی الله عنه)

ـ هغه څوک چې غواړي ستا ملګری شي،نودهغوی ملګری شه.

(حسن رضی الله عنه)

ـ غوره والی او بزرګي داسلام څخه پرته په هيڅ شي کې نشته.

(خالدبن وليدرضی الله عنه)

ـ د انسان ترټولو لوی دښمن دهغه ګناه ده.

(سلمان فارسي رضی الله عنه)

ـ ترټولوغوره کار د ژبې ساتل دي.

(عايشه رضی الله عنها)

ـ ځواني دليونتوب يوه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(عبدالله ابن مسعودرضی الله عنه)

ـ په ګناه خوښي کول له ګناه هم لويه ګناه ده.

(ابوذرغفاري رضی الله عنه)

ـ تر ټولو ښه کس هغه څوک دی، چې انتقام اخيستلی شي مګر ښښنه کوي.

(حسن رضی الله عنه)

ـ هرکارپه پيل کې ستونزمن وي.

(سلمان فارسي رضی الله عنه)

ـ عابد هغه څوک دی، چې دالله تعالی په تقسيم خوښ وي.

(حسن رضی الله عنه)

ـ د ميلمه په وياړ ډير مصرف په اصراف کې نه راځي.

(عايشه رضی الله عنها)

ـ د شريف انسان نښه داده چې دهغه چا عزت کوي چې ده ته يې هيڅ ډول ګټه نه رسيږي.

(عباس رضی الله عنه)

ـ د جهاد برياليتوب داشخاصوپه ډېرښت کې نه دی،بلکې په اخلاص،صداقت اولويه حوصله کې دی.

(خالد بن وليد رضی الله عنه)

ـ حق پلوی به هيڅکله هم ذليله نه شي.

(عايشه رضی الله عنها)

ـ د ښځوحج دوسلوال جهاد نه غوره دی.

(عايشه رضی الله عنها)

ـ علم ترټولو لويه خزانه ده.

ـ حق پلوی انسان به هيڅکله ذليل نه شي، اګر که دوخت ټول خلک دده په خلاف ولاړ وي.

(عايشه رضی الله عنها)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د انسان په بدن کې دعزت اوذلت ذمه واره ژبه ده.

(عایشه رضی الله عنها)

ـ انسان نه په خپله خوښه پیداکیږي او نه په خپله خوښـه مړکیـږي، نوبیـا ولـې دپیدایښت او مرګ ترمنځ ژوند په خپله خوښه تیروي؟

(حسین رضی الله عنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

## د امامانو ،عالمانو او پوهانو ویناوې

ـ که عالمان دالله تعالی دوستان نه شي، نو څوک به دالله تعالی دوستان شي؟

(امام ابو حنیفه رحمه الله )

ـ له خلکو سره داسې کړنه کوه لکه څنګه چې یې له خپل نفس سره کوې.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ په ټولو نېکیو کې لویه نیکي ایمان دی، او په ټولو ګناهونوکې لویه ګناه کفر دی.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ څوک چې د دنیاوي ګټې په خاطر علم زده کوي، علم دهغه په زړه کې ځای نه نیسي.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ بې علمه عمل بې ساه جسد دی.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ له صبر،زغم او حوصلې سره ځان عادت کړئ.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ چا چې ستا بدي بیانوله،ته یې نیکي بیانوه.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ د بل چا دحقوقو په پوره کولو کې بیړه وکړئ.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ خپل ځان لپاره د ګناهونو انبار او خپلو وارثانو لپاره مال او دولت مه جمع کوه.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

ـ که غواړئ چې په دین کې پوه لاسته راوړې، نو د خلکو خبرو ته مه ګورئ.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هر چا سره په ورين تندي مخ کيږه، او لويي مه کوه.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

ـ د عالمانو دټول علم سرمايه دوه شيان دي: دعقيدې سمون او ريښتنی خدمت.

(امام شافعي رحمه الله)

ـ د ميراني خاوندانو ته نه ښايي چې په دنيا کې ارامه ژوند وکړي.

(امام شافعي رحمه الله)

ـ ژوند هغه سفر دی، چې شروع يې زانگو او پای يې لحد دی.

(امام شافعي رحمه الله)

ـ له شرک پرته دهرې گناه دبښنې اميد شته دی.

(امام شافعي رحمه الله)

ـ کله چې کارونه ډېر زيات شي ، نو لومړی هغه وکړه چې مهم وي.

(امام شافعي رحمه الله)

ـ بې له ازموينې دچا په دوستۍ باور مه کوئ.

(امام شافعي رحمه الله)

ـ تواضع او عاجزي په جامو کې نه ده،بلکې عاجزي يوازې په دين کې ده.

(امام مالک رحمه الله)

ـ څومره چې مال او شتمني لږ وي، حساب يې هم کم وي.

(امام احمد بن حنبل رحمه الله)

ـ په خپله ځان هوښيار گڼل ستره ناپوهي ده.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ غوره نيکي د خپلو ملگرو دعزت ساتنه ده.

(حسن بصري رحمه الله)

ـ د ضرورت پرته له کور څخه مه وځئ.

(امام مالک رحمه الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ په داسې سیمه کې مه اوسېږئ چې هلته حق نه عملي کیږي.

(امام مالک رحمه الله)

ـ ناپوه چې دچوپتیا په ګټه پوه شي،هوښیار بلل کیږي.

(امام مالک رحمه الله)

ـ درواغجن له هرڅه دمخه خپل ځان رسوا کوي.

( امام حسن بصري رحمه الله)

ـ بد اخلاقي د باطني نجاست نښه ده.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ خلک هروخت د علم لپاره راځي، خو هیڅکله علم خلکوپسې نه ورځي.

(امام مالک رحمه الله)

ـ غوسه دانسانیت ډیوه مړه کوي.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ پتمنو خلکو لپاره بې شرمي له مرګ څخه سخته ده.

( امام حسن بصري رحمه الله)

ـ د ځوانۍ عمر داسې دی، لکه څه شی چې دې په جیب کې وي او درڅخه ورک شي.

(امام احمد بن حنبل رحمه الله)

ـ دانسان تر ټولو لویه فتحه داده، چې په خپله خوله او زړه واک ولري.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ هغه څوک احمق دی، چې کله قوم ورپسې روان شي،کبر او لویي شروع کړي.

( امام حسن بصري رحمه الله)

ـ هغه دعوت تر ټولو بدتر دی، چې په هغه کې دولتمند خلک راغوښتل کیږي او مسکینان محروم پاتې کیږي.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ هغه څوک چې حیاء نه لري، ایمان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(امام جعفر صادق رحمه اﷲ)

ـ علم پرته له نادرۍ او لوږې څخه نه ترلاسه کیږي.

(امامالک رحمه الله)

ـ په انسان باندې تر ټولو دروند بوج دهغه غوسه ده.

(امام مالک رحمه الله)

ـ باید شونډې وتړو،مټې راونغاړو او لاس په کار شوو.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ د دنیا مینه دټولو ګناهونو سر دی.

(امام حسن بصري رحمه الله)

ـ څوک چې د مال او دولت سره مینه کوي، الله تعالی به یې رسوا کړي.

(امام حسن بصري رحمه الله)

ـ د زړه خوشحالي یواځې په حلال رزق ده.

(امام احمد بن حنبل رحمه الله)

ـ بې همته انسان ناکام وي،اوبې دینه انسان بې حیاء وي.

(امام حسین رحمه الله)

ـ ښایسته اخلاق دادي چې نه کینه وکړې او نه غوسه وکړې.

(امام احمد رحمه الله)

ـ په چا پسې ملنډې وهل، د دوښمنۍ لامل کیږي.

(امام غزالي رحمه الله)

ـ تمه ازاد سړی غلام ګرځوي.

(امام ترمذي رحمه الله)

ـ چا چې مشوره پرېښوده هغه تباه شو.

( امام اوزاعي رحمه الله)

ـ عالم هغه دی چې عمل یې دعلم سره برابر وي.

( امام حسن بصري رحمه الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه د ډېر علم پر ځای لږ ادب ته اړتیا لرم.

( عبدالله ابن مبارک رحمه الله)

ـ داسې خبرې مه کوه چې خلک پرې خندا کوي.

(لقمان حکیم رحمه الله)

ـ په کوم ځای کې چې خبرې کول سپین زر وي،خاموشي سره زر ده.

(لقمان حکیم رحمه الله)

ـ دناپوهانو مقابله په خاموشۍ سره کوه.

(لقمان حکیم رحمه الله)

ـ له بد ذاته خلکو دوفا تمه مه کوه.

(لقمان حکیم رحمه الله)

ـ د نا اهله اوخود غرضه مشر دګناه سزا ټول قوم ته ورکول کیږي.

(صلاح الدین ایوبي رحمه الله)

ـ حکمت په لس ډوله دی،نهه ډوله یې په خاموشۍ کې او یو ډول یې په کمو خبرو کې دی.

(لقمان حکیم رحمه الله)

ـ تاسو د خپل نفس دخواهشاتو په پوره کولو کې لګیا یې او هغه ستاسو په بربادولوکې لګیا دی.

(عبدالقادر جیلاني رحمه الله)

ـ ستاسو لوی دښمن ستاسو بد ملګری دی.

(عبدالقادر جیلاني رحمه الله)

ـ د الله تعالی د پیژندلو نه د ځان پیژندل سخت دي.

(عسکري رحمه الله)

ـ هم د دنیا او هم دآخرت سړی اوسه.

(لقمان حکیم رحمه الله)

ـ داسې کارونه مه کوئ، چې جاهلان ستاسو پر وړاندې ګوستاخي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(لقمان حکيم رحمه الله)

ـ د خپلې ګټې لپاره خپل عزت له لاسه مه ورکوئ.

(لقمان حکيم رحمه الله)

ـ ريښتينی مينه ناک انسان مرګ نه لري.

(علامه اقبال رحمه الله)

ـ دوست هغه دی، چې ټول عمر درسره وفا وکړي.

(عبدالقادر جيلانی رحمه الله)

ـ کله چې قومونه دفکر کولو څخه محروم شي، تباه کيږي.

(علامه اقبال رحمه الله)

ـ اسلام يوازينی دين دی چې د ژوند ټولې ښيګڼې په کې نغښتې دي.

(جلال الدين سيوطي رحمه الله)

ـ حاسد ته هيڅ وخت راحت نه حاصليږي.

(احنف بن قيس رحمه الله)

ـ کاسب د الله تعالی دوست دی.

(معين الدين رحمه الله)

ـ هغه حاکم چې قوم د ځان غلام ګڼي،پايله يې هلاکت او تباهي ده.

(طارق بن زياد رحمه الله)

ـ له بد اخلاقۍ څخه دوښمني پيدا کيږي.

(لقمان حکيم رحمه الله)

ـ ازادۍ او خپلواکۍ ته څوک په تشو خبرو نه شي رسيدلای.

(سيد جمال الدين افغان)

ـ په خپل نفس باور دبريا لومړی شرط دی.

(سيد جمال الدين افغان)

ـ ډېر داسې ورونه شته دي چې، ستا له مور څخه نه دي زيږيدلي.

(لقمان حکيم رحمه الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زموږ دين(اسلام) ټول ادب دی.

(جعفر صادق رحمه الله)

ـ جهاد ژوند دی،جهاد عزت دی،جهاد رحمت دی او جهاد سرلوړي ده.

(شهيد عبدالله عزام رحمه الله)

ـ ژوند يو امانت وګڼئ، کيدای شي ډېر ژر درنه واخيستل شي.

(جلال الدين رومي رحمه الله)

ـ داحساساتي خلکو دوستي او دوښمني دوام نه لري.

(شهيد سيد قطب رحمه الله)

ـ غلامي دالله تعالی لوی لعنت دی.

(علامه اقبال رحمه الله)

ـ دمذهبي تعصب له کبله دقومونو تر منځ اتفاق او همدردي له منځه ځي.

(حسن البناء رحمه الله)

ـ د تخت او تاج نشه دانسان څخه شيرونکی حيوان جوړوي.

(صلاح الدين ايوبي رحمه الله)

ـ حق اخيستل کيږي،ورکول کيږي نه.

(سيد جمال الدين افغان)

ـ څوک چې پوه وي، هيڅکله دملګري رازونه نه خپروي.

(قطب الدين رحمه الله)

ـ علم چې په هره طريقه ممکن وي، ترلاسه يې کړئ.

( علامه اقبال رحمه الله)

ـ ټول قدرتونه دمطلق قدرت پر وړاندې کمزوري دي.

(شهاب الدين رحمه الله)

ـ له خولې څخه داسې وينا مه راوباسئ، چې تاسو پرې ملامت شئ.

(سفيان ثوري رحمه الله)

ـ په توبه کې وروسته والی دنفس دوکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جعفرصادق رحمه الله)

ـ څوک چې په خيټه موړ وي په عبادت کې به يې خوند نه وي.

(ابراهيم بن ادهم رحمه الله)

ـ قناعت يوه داسې خزانه ده، چې پناه نه لري.

(عبدالرحمن بابا رحمه الله)

ـ څوک چې زيات ويده کيږي، په عمرکې به يې برکت نه وي.

(ابراهيم بن ادهم رحمه الله)

ـ چا چې دالله تعالى يووالى وپيژانده،هغه هدف ته رسيدلى دى.

(ابوبکر واسطي رحمه الله)

ـ څوکۍ هيڅ ارزښت نه لري بلکې اهداف مهم دي.

(شهيد معلم اول ګل رحمه الله)

ـ اخلاص هغه دى چې په دنيا او اخرت کې يې هيله ونه شي.

(ابو محمد رحمه الله)

ـ موږهيڅکله داسې اميد نشو ساتلى،چې شرق يا غرب به داسې لاره برابره کړي چې د مجاهدينو ارمان ترسره شي.

( خالص بابا رحمه الله)

ـ د دنيا د ټولو تعذيبونو څخه سخت هغه يې مرګ دى، خو د الله جل جلاله د ددين د حاکميت په خاطر خپل ځان قربانول بيا ستر وياړ او سعادت دى،چې الله تعالى يې په خپلو خاصو بنده ګانو لوروي.

(شهيد استاد نعمان رحمه الله)

ـ که چا درنه پوښتنه وکړه چې ولې خفه يې؟ ريښتيا ورته ووايه: استغفار نه وايم،او د قران کريم تلاوت مې پريښى.

(دوکتور اظهار الحق)

ـ کبرجن لکه مرغه،څومره چې پورته کيږي هومره په نظرونو کې وړوکى ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دوکتور اظهار الحق)

ـ که په مسجد کې مو د ماشومانو اوازونه وانه وریدل،نو د راتلوونکي نسل څخه وویرېږئ.

(دوکتور اظهار الحق)

ـ د سړي اخلاق د هغه په غیاب کې تر بل هر چا ښه دفاع کوي.

(دوکتور اظهار الحق)

ـ مونږ باید له ځان څخه دا درې پوښتنې وکړو: ۱) د څه لپاره پیدا یوو؟ ۲) څه مو کړي؟۳) څه باید وکړو؟

(دوکتور اظهار الحق)

ـ په دعاء تجربه مه کوئ،بلکې دعا داسې وغواړئ،چې په قبلیدلو یې ښه باوري یئ.

(دوکتور اظهار الحق)

ـ د یو چا مجبوریت او بې وسي باید د هغه له کمزوۍ سره تعبیر نه شي.

(غلام عمر عبدالله)

ـ ځینې خبرې او دردونه همداسې په زړه کې پټ ښه وي،بیانول یې نور دردوي.

(غلام عمر عبدالله)

ـ غربي نړۍ د مسلمانانو دوه شیان نه شي زغملی:۱) د ځوانانو دینداري۲) د ښځو عفت او پرده.

(غلام عمر عبدالله)

ـ د تاریخ په اوږدو کې حاکمانو تل هغه علماء ځورولي، چې دباطل ملاتړ یې نه دی کړی.

(غلام عمر عبدالله)

ـ اخلاق لکه روزي داسې ویشل شوي، ځیني یې فقیران او ځینــي یــې مالـدارن دي.

(غلام عمر عبدالله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ که انسان د ژوند پیل او پای هیر نه کړي،په منځنۍ مرحله کې به بې لارې نه شي.

(غلام عمر عبدالله)

ـ په نړۍ کې هغه خلک ډېر مخالیفین لري، چې دحق خبره کوي یا د حق پلوی وي.

(غلام عمر عبدالله)

ـ یوازینی څوک چې زه هڅه کوم ترې غوره شم، هغه د پرون (زه) یم.

(سفیان خالد)

ـ ادب د عطرو په څیر دی،که ته یې وکاروې نور خلک هم ترې خوند اخلي.

(سفیان خالد)

ـ ښکلا هم ډېر شرطونه لري، یو یې موسکا ده.

(سفیان خالد)

ـ هغه امت به هیڅ کله مات نه شي،دکوم چې مشر او قومندان محمد ( ص ) وي.

(سفیان خالد)

ـ په قبرونو غوړیدلې چوپتیا په دې معنا نه ده، چې ټول جنت ته لاړ دي.

(سفیان خالد)

ـ ځیني خلک د ضلالت له وېرې په ضلالت کې ژوند کوي.

(سفیان خالد)

ـ دادب له مخې هر انسان ته غوږ کیږده، خو د احتیاط له مخې یې هر څه مه منه.

(سفیان خالد)

ـ اسمان او ځمکه دواړه مې خوښ دي، ځکه په اسمان کې جنت او په ځمکه کې مې مور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سفيان خالد)

ـ ستا اخلاق ستا ادرس دی.

(سفيان خالد)

ـ انسان چې غوسه وزغمي، نو هر ډول حالات تر کنټرول لاندې راوستلای شي.

(عبدالمالک روحاني)

ـ بخښنه،محبت او عبادت بايد په پټه سره وشي.

(عبدالمالک روحاني)

ـ اعتماد د هرې اړيکي تر ټولو مهم شرط دی.

(عبدالمالک روحاني)

ـ د ځان بدلون زده کړه،کال خو هر کال بدليږي.

(عبدالمالک روحاني)

ـ هر انسان بايد د خپلې ژبې ساتنه داسې وکړي،لکه څنګه چې د جامو ساتنه کوي.

(عبدالمالک روحاني)

ـ د وخت په تيريدو د ځينو انسانانو اصليت څرګنديږي.

(عبدالمالک روحاني)

ـ انسان کوښښ کوي چې د مرګ څخه ځان خلاص کړي نه د جهنم څخه، حال دا چې په کوښښ کولو انسان د جهنم څخه خلاصيږي خو نه د مرګ نه.

(الحاج نصرت)

ـ بعضې خلک ځکه ستړي او پريشانه دي، چې هرڅه له حده زيات او له وخته مخکې غواړي.

(الحاج نصرت)

ـ د کورنۍ په شومول د هرې ټولنې مشر د اميل د تار (مزي) حيثيت لري، په هره اندازه چې تار قوي وي،ټولنه به منظمه وي.

( بشارت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د دين اصلي اصول پرېښودل ، فرعي او جزوي مسايلو ته مخه کول د امت د اختلاف سبب کيږي.

( بشارت)

ـ د دوستانو او خپلوانو د زياتيدلو هڅه کوه، مخاليفين په خپله کميږي.

( بشارت)

ـ ريښتنی واقعي دوست هغه دی،چې ستاسو اهميت تر ماد‌ياتو غوره وګڼي.

( بشارت)

ـ ښه دوست پيدا کول ستا قسمت دی، او ساتل يې ستا هنر دی.

(ابو عمرمتين نصرت)

ـ ريښتيني مينه وينه غواړي.

(ابو عمرمتين نصرت)

ـ له نورو سره داسې چلند وکړه،چې ته لرې چې نور يې له تا سره وکړي.

(ابوعمرمتين نصرت)

ـ مونږ بايد زده کړو چې په خوشحالۍ کې لامل اؤسو نه شريک،او په غم کې شريک اؤسو نه لامل.

(ابو عمرمتين نصرت)

ـ ناکامي مو په شګو او برياليتوبونه مو د مرمرو په تيږو وليکئ.

(پرمودا باترا)

ـ ساده خلک ښکلي وي.

(کوکو شانل)

ـ خاموشي دخبرو اترو حسن دی.

(ابن سينا)

ـ پرته له باطني ښکلا، ظاهري ښکلا بې ارزښته ده.

( فيثاګور)

ـ برياليتوب له برياليتوب، او ناکامي له ناکامۍ څخه پيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شیو کهرا)

ـ تر ټولو لوی بری په ځان تسلط دی.

(افلاطون)

ـ که یوه ورځ ستا مقام ټیټ شو نو خفه کیږه مه، ځکه لمر هره ورځ په دې نیت ډوبیږي، چې سبا به بیا راخیژم.

(افلاطون)

ـ په کار کې تیروتنه تیروتنه نه ده ، بلکې عبرت دی.

(ان ویلسن سکف)

ـ هیڅکله له خپلې تیروتنې څخه ملاتړ مه کوئ.

(شیو کهرا)

ـ ښکلا دالله تعالی تحفه ده.

(ارسطو)

ـ حقیقي ښکلا یوازې په طبعیت کې ده.

(شکسپیر)

ـ تر ټولو نږدې مرگ او تر ټولو لرې هیله ده.

(سقراط)

ـ ویره او امید د تل لپاره سره یوځای وي.

(لارو شفوکو)

ـ هیله دغریبانو ورځینې خواړه دي.

(هرشل)

ـ له نن پرته هیڅ ارزښت لرونکی شی نه شته.

(گویته)

ـ دبدن په غړو کې زیاته نافرمانه ژبه ده.

(فیثاغورث)

ـ یوه مور له سلو استادانو غوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جورج هربرت)

ـ د مور استقامت غر،او محبت يې سمندر دی.

(ساخاروف)

ـ هغوی چې واک په پيسو اخلي ،عدالت هم په پيسو خرڅوي.

(ناپيلون)

ـ له مرګ څخه مه ويرېږئ، ځکه له مرګ څخه يې ويره ترخه ده.

(سقراط)

ـ افسوس چې ځوان پوهيدلای، او بوډا توانيدلای.

(هنري اشتاين)

ـ دسر نه تيريدل برياليتوب ته رسيدل دي.

(ويکټور هوګو)

ـ څوک چې فکر کم کوي، هغه خبرې هم کمې کوي.

(هريري)

موسکا لګښت نه لري خو ګټه يې زياته ده.

(ډيل کارنګي)

ـ طلا په اور، ښځه په طلا او سړی په ښځه ازمايل کيدای شي.

(سنت پروا)

ـ ټينګ هوډ په هر څه آن په وخت هم برى مومي.

(شاتوبريان)

ـ يوازې دګنډلو دستنې په وسيله کولای شې چې کوهی وکنې.

(ناپيلون)

ـ مجبور يم چې سپورت وکړم، او کنه عقل مې ورستيږي.

(تولستوی)

ـ که کار کول زيار ګالل دي، خو وزګارتيا فساد دی.

(بزر جمهر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ کار نه کول دژوند نه کولو سره برابر دي.

(ولتر)

ـ ډېرې بې ګټې خبرې سړی کمزوری ښکاره کوي.

(ګوستا ولويون)

ـ مهمه دا نه ده چې ښکلی شې،ښکلا داده چې مهم شې.

(نلس منډيلا)

ـ دهغه څه په هکله چې ترې خبر نه يې،هيڅ هم مه وايه.

(سقراط)

ـ له مرګ څخه لوی ريښتيا او له هيلې څخه لوی دروغ نه شته.

(بايدن)

ـ له شکست او ماتې څخه وېره شکست راولي.

(ناپيلون)

ـ د نړۍ په دوو قومونو اعتبار مه کوئ،يهود او بني اسرايل.

(هيټلر)

ـ د خلکو عيبونو ته پاملرنه زمونږ تر ټولو لوی عيب دی.

(جبران)

ـ د هيچا زړه مه خفه کوئ،ځکه ته هم زړه لرې.

(تولستوی)

ـ ميړانه د بشر تر ټولو اوچت صفت دی.

(ډيکنز)

ـ ناوړه انسان مړ کيږي،خو د هغه شر پاتي کيږي.

(شکسپير)

ـ هر څوک ځواني تيروي خو مهمه داده چې څنګه يې تيروي.

(بتهوون)

ـ دنيا هميش د عاقل په مرګ او دجاهل په ژوند اوښکې تويوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(افلاطون)

ـ لوی کارونه همیشه په لومړي سر کې ناشوني ښکاري.

(کارلایل)

ـ یو سړی د خپل د یو دروغ د پټولو لپاره شل نور دروغ وایي.

(دواني)

ـ لیونی که هرڅومره غښتلی وي د شپنې ور نه دی.

(جاتاکاس)

ـ په یوه خندا انسان ته هره دروازه خلاصیږي.

(فرانکلن بتگر)

ـ په وعدو باور مه کوئ ،ځکه نړی تولهلو وعدو ډکه ده.

(پاولو کویلو)

ـ تجربه د نرم کټ او پستو بالښتونو د پاسه نه ترلاسه کیږي.

(اریپید)

ـ د غوسې درمل خاموشي ده.

(سقراط)

ـ هر ښایسته شی ښه نه وي، لکن هر ښه شی حتماً ښایسته وي.

(کندي)

ـ یوازې ته خپله ښه پوهیږي، چې څه درته غوره دي.

(پایلو کویلو)

ـ له هغه ناپوه نه تښته چې ځانته پوه وایي.

(سندکا)

ـ یواځې همدومره پوهیږم چې نه پوهیږم.

(سقراط)

ـ مړ پوه ژوندی او ناپوه ژوندی مړ دی.

(لادوڅر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ انسان دکړنو له مخې شمیرل کیږي، نه په کلونو.

(اسمایلي)

ـ راځئ چې شتمن ژوند وکړو نه داسې چې شتمن مړه شو.

(واکرجانس)

ـ لوی بریالیتوب د ملګرو تر منځ اعتماد او باور دی.

(والدو امرسون)

ـ په ورتیا باور لرل نیم بریالیتوب دی.

(روسو)

ـ دکار دګټو څخه یوه داده چې ورځې لنډوې او عمر اوږدوي.

(دیدرو)

ـ دنورو سعادت غوښتل ستره نیکمرغي ده.

(الثر)

ـ لوړ همت او ټینګ هوډ ډبرې اوبه کوي.

(سټنلي)

ـ په انسان زیات مشکلات د هغه د ژبې له امله راځي.

(فیثاغورث)

ـ خونه پرته له کتابه داسې وي لکه بې روحه جسد.

(سیسرو)

ـ جامې زړې واغوندئ خو کتاب نوی واخلئ.

(فلیپس)

ـ هیڅ شی ښکلی کیدای نه شي، چې رینښتینی نه وي.

(جوهن رسکین)

ـ د ژوند ستر هنر احساس دی.

( لرد یاپرون)

ـ تر ټولو لویه تیروتنه د تیروتنې څخه ویره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(البروت هوبارد)

ـ دتيروتنې نه جبران کول،خپله تيروتنه ده.

(کنفوسيوس)

ـ بدبين خلک تل نيوکې کوي.

(شيو کهرا)

ـ هوښيار خلک په خيال کې نه بلکې په عمل کې ژوند کوي.

(کارلوس کاستاندا)

ـ پوهه،تجربه او هڅه دبرياليتوب مهم عناصر دي.

(هنري لانګ فلو)

ـ ټينګه اراده دبرياليتوب  کيلي ده.

(رابرټ سون)

ـ که غواړې چې هوسا ژوند ولرې، نو لومړی مړ کيدل زده کړه.

(توکارام)

ـ خطر منوونکی انسان تل لوی کارونه کوي.

(افلاطون)

ـ خبرې کول اړتيا ده خو چوپتيا يو هنر دی.

(........)

ـ دروغ که په طلايي ليک وليکل شي بيا هم دورغ دي.

(........)

ـ يا منلې خبره ولره يا منلی زړه.

(........)

ـ غوره هغه څوک دی چې ښه کارونه ترسره کړي، ګني ښې خبرې خو بد خلک هم کوي.

(........)

ـ ددولت ساتنه به ته کوې،خو علم ستا ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(........)

ـ د غوره اخلاقو څخه بل لوړ هیڅ شی نه شته.

(........)

ـ د ښو اخلاقو لرونکی انسان د ښه وجدان لرونکی هم دی.

(........)

ـ وجدان د انسان په شتوو کې غوره پانگه ده.

(........)

ـ اخلاق یو دوکان دی او ژبه یې کولف دی ، کله چې کولف خلاص شي نو درک یې معلومیږي چې دوکان د سرو دی او که د سکرو.

(........)

ـ د مرگ لپار تیاری هوښیارتوب دی.

(........)

ـ د خپلې روغتیا لپاره ډېرې اوبه څښئ.

(........)

ـ په ځان باور په انسان کې قوت پیداکوي.

(........)

ـ غوره ملگری هغه دی،چې په لیدلو یې تاته الله تعالی درياد شي.

(........)

ـ په زړونو کې اوسیدل زده کړئ،کورونو کې خو هر څوک اوسیږي.

(.......)

ـ ادب د سرو او سپینو زرو نه غوره دولت دی.

(........)

ـ بریالي خلک مختلف کارونه نه کوي،بلکې کارونه په مختلفه بڼه ترسره کوي.

(........)

ـ د نورو په کارونو کې لاسوهنه نه کول نیم ادب دی.(........)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه چې نن دومره ځای ته رسيدلی يم د مور له برکته.

(........)

ـ خاموشي هغه دوست دی، چې هيڅ کله دې نه رسوا کوي.

(........)

ـ د دين زده کول ستره پانګه ده.

(........)

ـ د بدې ښځې او بد ګاونډي څخه ځان ساته.

(........)

ـ ښه ښځه د ميړه تاج دی.

(........)

ـ راتلونکی دهغه چا دی چې هيله ولري.

(........)

ـ ټول هغه خلک چې له تاسره خاندي،ستا دوستان نه دي.

(........)

ـ ښه دوستي هغه ده،چې مينه ورسره ملګرې وي.

(........)

ـ باد له خاموشې ډيوي سره کار نه لري.

(........)

ـ هغه اوښکې چې مور يې له ناکامۍ وروسته تويوو،دا هغه خولې دي چې مـوږ د کاميابۍ لپاره نه دي توی کړي.

(........)

ـ خلکو نه د دعاء غوښتلو پرځـای دا ښـه ده چـې، داسي څـه وکـړو چـې خلـک خپله راته دعاء وکړي.

(........)

ـ د انسان د ژوند اساس مور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مؤلف)

ـ ناکامي دبریالیتوب لپاره شرط ده.

(مؤلف)

ـ موسیقي اوریدل انسان بې حیاء کوي.

(مؤلف)

ـ بې مشورې کار بې مالګې خواړه دي.

(مؤلف)

ـ بریالي خلک د خلکو په خبرو پسې نه ګرځي.

(مؤلف)

ـ زموږ لپاره دا ویاړ هم بس دی، چې دالله تعالی بنده ګان یوو.

(مؤلف)

ـ له جنت څخه هغه څوک نا امیده کیږي، چې د الله تعالی په رحمت باور نه لري.

(مؤلف)

ـ ددعاء د نه قبلیدو وروسته مه خفه کیږه،ځکه الله تعالی له تا ډېر ښه پوهیږي.

(مؤلف)

ـ شاته کتل او په تیرو پیښماني، فقط وخت ضایع کوي او بس.

(مؤلف)

ـ مسلمان باید د ګناه په وخت له خپل نوم څخه وشرمیږي.

(مؤلف)

ـ څوک چې ډېرې خبرې کوي، عزت یې کمیږي.

(مؤلف)

ـ مثبت فکر د ژوند د مثبت بدلون سبب کیږي.

(مؤلف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ عاجزي دانسان ښکلا ده.

(مؤلف)

ـ له یوه څه سره ډېره مينه انسان له ايمان څخه خلاصوي.

(مؤلف)

ـ تل دالله تعالی څخه غوښتوونکی اوسه.

(مؤلف)

ـ مور د اولاد په تربیه کې تر هر چا زيات رول لري.

(مؤلف)

ـ د ژوند هره لحظه تجربه ده.

(مؤلف)

ـ دبعضې خلکو د خيرو پر ځای، ديوالونو ته کتل ډېر ښه دي.

(مؤلف)

ـ ژوند د څو دقيقو او دقيقه د څو ثانيو نوم دی،نو راځئ چې دغه ثـانيې د اللـه د رضا کولو لپاره تيرې کړو.

(مؤلف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه خویونه

دوه خویونه ډېر ناوړه دي:

۱: د الله تعالی سره شریک نیول

۲: مسلمانانو ته زیان رسول

## دوه شیان

دوه شیان دالله تعالی غوره نعمتونه دي:

۱: په دنیا کې علم

۲: په اخرت کې ښښنه

## دوه وختونه

په دوه وختونو کې پریکړه مه کوئ:

۱: د غوسې په وخت کې

۲: دخوشحالی په وخت کې

## دوه کسان

ددوه کسانو تل احترام کوئ:

۱: د مور

۲: د خپل استاد

## دوه شیان

مسلمان په دوه شیانو پیژندل کیږي:

۱: حیاء

۲: غوره اخلاق

## درې شیان

درې شیان دوام نه لري:

۱: د ظالم ظلم

۲: د وریځې سیوری۳: چاپلوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې شیان

کار انسان له درې بلاګانو څخه ساتي:

۱: بې روزګاري

۲: فسق

۳: اړتیا

## درې شیان

د انسان ښکلا په درې شیانو کې ده:

۱: علم

۲: مینه

۳: ازادي

## درې شیان

ددرې شیانو سزا انسان ته په دنیا کې ورکول کیږي:

۱: دمور او پلار خفه کول

۲: په خلکو زیاتی کول

۳: د نیکی په بدل کې بدي کول

## درې شیان

درې شیان نجات ورکوي:

۱: ریښتینولي

۲: ښه خوی

۳: پرهیزګاري

## درې شیان

درې شیان هیڅ کله مه کوه:

۱: د کنجوس څخه پور اخیستل

۲: د جاسوس ملګرتیا

۳: د ښځې په خبره باور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې شيان

ددرې شيانو پايله رسوايي ده:

۱: د رياء

۲: د دوه مخي توب

۳: د ضرورت پرته ډېرې خبرې

## درې شيان

درې شيان په ژوند کې يو ځل پيداکيږي:

۱: ځواني

۲: ښايست

۳: مور او پلار

## درې عملونه

په عملونو کې درې عملونه غوره دي:

۱: د شتمنۍ سره عاجزي

۲: د قدرت سره ښښنه

۳: د يادولو څخه پرته احسان

## درې پړاونه

د بريالیتوب درې پړاونه دي:

۱: علم

۲: فکر

۳: عمل

## درې شيان

درې شيان تل پاک ساته:

۱: بدن

۲: لباس

۳: خيالات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې کسان

ددرې کسانو غيبت روا دی:

۱: لالچي

۲: فاسق

۳: ظالم پاچا

## درې شيان

د درې شيانو غوښتنه کوه:

۱: ښه ښځه

۲: تندرستي

۳: نيک اولاد

## درې کسان

د درې کسانو څخه ځان ساته:

۱: د غافله عالم څخه

۲: له کبرجن فقير څخه

۳: د جاهل صوفي څخه

## درې شيان

درې شيان خوښوئ:

۱: وړو کسانو ته ډوډۍ ورکول

۲: بربنډو ته جامې ورکول

۳: د قران کريم تلاوت

## درې بنسټونه

په نړۍ کې د شر درې بنسټونه دي:

۱: ابليس

۲: ښځه

۳: شتمني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې شيان

درې شيان بيرته نه راګرځي:

۱: روح

۲: ساه

۳: الفاظ

## درې شيان

د درې شيانو دوستي له زيان څخه خالي نه وي:

۱: ژوند

۲: نفس

## درې کارونه

په درې کارونو خوله ورانيږي:

۱: په سوال کولو

۲: په پيښو کولو

۳: په مړ کيدلو

## درې کارونه

په درې کارونو انسان سپکيږي:

۱: په درواغو ويلو

۲: په کنځلو کولو

۳: دځان په ستايلو

## درې کسان

د درې کسانو په خبرو باور مه کوئ:

۱: درواغجن

۲: دوښمن

۳: احمق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې کسان

درې کسان په درې ځايونو کې معلومېږي:

۱: بهادر د جنګ په ډګر

۲: ملګری د سختۍ په وخت کې

۳: هوښيار د غوسې په وخت کې

## څلور شيان

هيڅکله دغه څلور شيان بې باکه مه ګڼه:

۱: قرض

۲: رنځ

۳: دوښمني

۴: اور

## څلور علامې

ايمان څلور علامې لري:

۱: تقوا

۲: حياء

۳: شکر

۴: صبر

## څلور ښې

د غوره ژوند څلور ښې دي:

۱: ښه وينا

۲: ښه کار

۳: ښه نيت

۴: ښه مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلور شيان

څلور شيان څلور نور له منځه وړي:

۱: غوسه ـ عقل

۲: حسد ـ دين

۳: تمه ـ حياء

۴: غيبت ـ نيک اعمال

## څلور شيان

څلور شيان بدن له منځه وړي:

۱: نيستي

۲: د خپلوانو بيلتون

۳: هميشه غوسه

۴: نصيحت ته غوږ نه کيښودل

## څلور شيان

څلور شيان بدن ناروغه کوي:

۱: غم

۲: انديښنه

۳: لوږه

۴: بي خوبي

## څلور شيان

څلور شيان بدن ته خوښي وربښي:

۱: رواني اوبه

۲: محبوب

۳: شنه منظره

۴: ميوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلور شیان

څلور شیان بدن ته قوت وربښي:

۱: پستې جامې اغوستل

۲: خواږه خوړل

۳: خوشبويي بوي کول

۴: معتدل حمام ته دننه کيدل

## څلور شیان

څلورشيان رزق کموي:

۱: د لمر ختو په وخت کې خوب کول

۲: په لمانځه کې سستي کول

۳: خيانت کول

۴: تږګي

## څلور شیان

څلور شيان ذهن کمزوری کوي:

۱: ترشه خواږه خوړل

۲: په شپې خوب کول

۳: غم

۴: انديښته کول

## څلور شیان

څلور شيان بدن ناروغه کوي:

۱: ډېرې خبرې کول

۲: ډېر خوب کول

۳:ډېر خوراک کول

۴: ډېره جماع يا کوروالی کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلور کسان

څلور کسان دڅلورو شیانو قدر پیژني:

۱:بوډا د ځوانۍ قدر

۲: ناروغ د روغتیا قدر

۳: مړی د ژوند قدر

۴: مصروف د اوزګارتیا قدر

## څلور ستنې

د ایمان څلور ستنې دي:

۱: صبر

۲: یقین

۳: عدل

۴: جهاد

## څلور شیان

څلور شیان دکامیابۍ لپاره ضروري دي:

۱: ښه صحت

۲:د اړتیا نشتوالی

۳: ټینګ عزم

۴: دالله تعالی توفیق

## څلور شیان

څلورشیان د څلورو دښمنان دي:

۱: د علم دښمن تکبر دی.

۲: د عقل دښمن غوسه ده.

۳: د صبر دښمن حرص دی.

۴: د ریښتیا دښمن درواغ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځه ډوله

د پنځه ډوله کسانو د دوستۍ څخه ځان لرې ساته:

۱: بې عقله

۲: درواغجن

۳: بخيل

۴: فاسق

۵: ډارن

## پنځه زړونه

زړونه په پنځه ډوله دي:

۱: مړ زړه، دکافر زړه وي.

۲: ناروغه زړه،دا د ګناهګار زړه وي.

۳: غافل زړه، دا د ډېر خوراک کوونکي زړه وي.

۴: مستور زړه، دا د يهودانو زړه وي.

۵: هوښيار زړه، دا زړه د تقوا دار زړه وي.

## پنځه کسان

پنځه کسان جنتيان دي:

۱: هغه د ډېر اولاد خاوند چې صابر هم وي.

۲: هغه ميرمن چې خپل خاوند ترې راضي وي.

۳: هغه ميرمن چې خپل مهر خپل خاوند ته وبښي.

۴: هغه انسان چې مور او پلار ترې راضي وي.

۵: هغه ځوان چې د ګناهونو څخه توبه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږ ټکي

جنګ کې دا شپږ ټکي مهم دي:

۱: وسله

۲: غله او وسيله

۳: سلسله

۴: فيصله

۵: مرحله

٦: قافله

## شپږ شيان

د پوځ لپاره دا شپږ شيان مهم دي:

۱: اطاعت

۲: عبادت

۳: چمتووالی او اعداد

۴: بريد او تعرض

۵: قوي استخبارات

٦: وسلې او وسيلې

## شپږ نښې

د ناپوه شپږ نښې دي:

۱: بې ځايه غوسه

۲: بې ځايه خبرې

۳: بې ځايه ورکړه

۴: د راز ښکاره کول

۵: په هرچا باور

٦: دوست له دښمنه پيژندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږ شیان

په جنت کې شپږ شیان نه وي:

۱: مرگ به نه وي.

۲: خوب به نه وي.

۳: حسد به نه وي.

۴: نجاست به نه وي.

۵: بوډاوالی به نه وي.

٦: ږیره به نه وي.

## شپږ صفتونه

چا کې چې دا شپږ صفتونه پیدا شي، جنت ته به داخل شي:

۱: الله تعالی پیژندل او دهغه عبادت کول.

۲: شیطان پیژندل او دهغه مخالفت کول.

۳: باطل پیژندل او د هغه څخه ځان ساتل.

۴: اخرت پیژندل او هغه ته تیاری کول.

۵: دنیا پیژندل او هغې ترک کول.٦: اصل دین پیژندل او په هغه منگولې لگول.

## شپږ شیان

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: چا چې ماته د شپږو شیانو ضمانت راکړ،زه یې د جنت ضمانت کوم:

۱: په خبرو کې ریښتیا ویل.

۲: د وعدې پوره کول.

۳: د امانت سمه ساتنه کول.

۴: د عورت ساتنه کول.

۵: د سترگو سالمه ساتنه کول.

٦: لاسونه د زیان رسولو څخه ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه خويونه

د ماشومانو دغه اووه خويونه په ځان کې راولئ:

۱: ماشومان د رزق غم نه کوي.

۲: ماشومان يوځای ډوډۍ خوري.

۳: چې جنګ وکړي، کينه نه ساتي.

۴: له خپلو مشرانو څخه ويريږي..

۵: د دوښمنۍ جامې تر اخره پورې نه اغوندي.

٦: په وړوکي ګواښ سره ژاړي.

۷: له جنګ وروسته سمدستي روغه کوي.

## اووه شيان

اووه هلاکوونکي شيان:

۱: د الله تعالی سره شريک نيول.

۲: جادو کول.

۳: په ناحقه سره څوک وژل.

۴: د سود مال خوړل.

۵: په ناحقه د يتيم مال خوړل.

٦: په جهادکې د جنګ له ډګر څخه تښتيدل.

۷: په پاک لمنو ښځو تور لګول.

## اته شيان

اته شيان نه مړيږي:

۱: سترګې په کتلو

۲: ځمکه په باران

۳: ښځه په خاوند

۴: عالم په علم

۵: سوالګر په سوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦: حرص کوونکی د مال په جمع کولو

٧: سمندر په اوبو

٨: اور په لرگیو

## اته شیان

اته شیان ضرور وگڼه:

١: په هر حال کې تبلیغ

٢: په ځوانۍ کې ډېر عبادت

٣: د مور او پلار خدمت

۴: د دسترخوان پراخول

۵: صدقه او خیرات

٦: د رېښتیني دوست لټون

٧: دمشرانو احترام

٨: د اخرت لپاره کوښښ

## نهه نصیحتونه

نهه نصیحتونه مهم دي:

١: ولوله، په انتخاب سره

٢: غور وکړه، په ژورتیا سره

٣: خدمت وکړه، د زړه په اخلاص سره

۴: بحث وکړه، په دلیل سره

۵: ویل وکړه، په اختصار سره

٦: مقابله وکړه، په جرءات سره

٧: عبادت کوه، په محبت سره

٨: خبره اوره، په توجه سره

٩: ژوند تیروه، په اعتدال سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهه میني

دوه میني په یووخت کې نه جمع کیږي:

۱: د الله تعالی مینه او د گناونو مینه

۲: د جهاد مینه او د ژوند مینه

۳: د فداکارۍ مینه او د مال مینه

۴: د سولې مینه او دانتقام مینه

۵: د اصلاح مینه او دسلامتیا مینه

٦: د مبارزې مینه او د سوکالۍ مینه

۷: د عدل مینه او دظلم مینه

۸: د وطن مینه او دسرغړونې مینه

۹: د نیکۍ مینه او د دوکې مینه

## لس شیان

لس شیان یو تر بل قوي دي:

۱: تر ټولو سخت شی تیږه ده.

۲: د تیږي څخه سخت شی اوسپنه ده چې تیږه ماتوي.

۳: د اوسپنې څخه سخت شی اور دی،چې اوسپنه ویلي کوي.

۴: د اور څخه سخت شی اوبه دي،چې اور مړ کوي.

۵: د اوبو څخه سخت شی باد دی،چې اوبه وچوي.

٦: د باد څخه سخت شی توپان دی،چې باد له منځه وړي.

۷: له توپان څخه سخت شی ملایکې دي.

۸: د ملایکو څخه سخت عزرایل علیه السلام دی چې د هغوی روحونه به اخلي.

۹: له عزرءایل علیه السلام څخه سخت مرگ دی،چې د عزرءایل علیه السلام څخه به ژوند اخلي.

۱۰: له مرگ او ټولو شیانو سخت او قوي الله تعالی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لس شرطونه

خلیفه باید دلس شرطونو مطابق وي:۱: باید مسلمان وي.

۲: باید نارینه وي.

۳: باید د دین عالم وي.

۴: عادل او صالح به وي.

۵: باید ازاد وي.

٦: باید عاقل وي.

۷: باید بالغ وي.

۸: د بدن غړي یې روغ وي.

۹: باید زړور وي.

۱۰: باید په معامله کې پوه او د رایې خاوند وي.

## لس شیان

لس شیان لس نور له منځه وړي:

۱: غم ـــ عمر

۲: صدقه ـــ بلا

۳: غوسه ـــ عقل

۴: تکبر ـــ علم

۵: پښیماني ـــ سخاوت

٦: نیکي ـــ بدي

۷: عدل ـــ ظلم

۸: توبه ـــ گناه

۹: درواغ ـــ رزق

۱۰: غیبت ـــ نیک اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لس شیان

لس شیان الله تعالی نه خوښوي:

۱: د مالدارانو کنجوسي

۲: د غریبانو غرور

۳: د عالمانو تمه

۴: د ښځو بې حیاتوب

۵: د بوډا د دنیا مینه

٦: د ځوان سستي

۷: د پاچا ظلم

۸: د غازي ډاریدل

۹: د تقوادار ځان غوښتنه

۱۰: د عابد ځان ښودنه

## لس شیان

لس شیان له لسو شیانو پرته نه جوړیږي:

۱: عقل بې له پرهیزګارۍ څخه

۲: فضیلت بې له علم څخه

۳: شرافت بې له ادب څخه

۴: مالداري بې له سخاوت څخه

۵: خوشحالي بې له امن څخه

٦: بادشاهي بې له عدل څخه

۷: کامیابي د الله تعالی له ویرې څخه

۸: جهاد بې له توفیق څخه

۹: لوړوالی بې له عاجزۍ څخه

۱۰: فقر بې له قناعت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه برخه

## د پښتو ژبې متلونه

ـ آینه د چا عیب نه پټوي.
ـ آخر عمر د خوارۍ وي.
ـ آدب په ډب زده کیږي.
ـ آس ته چې خدای په قهر شي ګاډۍ ته ولویږي.
ـ آس خپل سپور ډېر ښه پیژني.
ـ آس مې درکړ، خو پرې سپریږي به نه.
ـ آس چې له خرو سره وتړې، د خرو خوی زده کوي.
ـ آسمان چې څومره غوریږي، هومره نه وریږي.
ـ آلو په شفتالو نه پیوندیږي.
ـ آسمان په ډبرو مه وله، خپل سر به مات کړې.
ـ آسمان په ستورو ښه ښکاریږي.
ـ اباسین چې په کاسو شي هم وچیږي.
ـ ابۍ زړه شوه خو مړه نه شوه.
ـ ابۍ زړه شوه خو له شوقه ونه لویده.
ـ اتفاق ته غرونه څه دي.
ـ اجل نه ردیږي.
ـ اجل په په نیټه دی.
ـ اجل په ډولو نه راځي.
ـ اجل چې راشي، زوړاو ځوان نه ګوري.
ـ اختر تیرشو خو مټایي یې هیر نه شو.
ـ اختر د یو سړي نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اختر چې تېرشي، نکريزي په ديوال وتپه.

ـ اخره زمانه شوه، د چرگانو يارانه شوه.

ـ اخور يې جوړ کړ، ويل يې آس به خداى راکړي.

ـ ارزان بې علته نه وي او گران بې حکمته نه وي.

ـ ارمان به وکړې، وخت به تير وي.

ـ ارمان چې ما ويلى او تا منلى.

ـ اسانه کلمه په هندو گرانه.

ـ اسلام تر توري لاندې وي.

ـ اصراف کې خير نشته.

ـ اصل اصل وي او کم اصل کم اصل وي.

ـ اصل به جفا ونه کړي او کم اصل به وفا.

ـ اصيل ته اشارت،کمعقل ته کوتک.

ـ اغزى د اولې ورځې نه تيره وي.

ـ اغزى چې وړوکى وي تيره وي،چې لوى شي پڅيږي.

ـ (الف) که څه نه لري ، د (ب) دې څه لښکرې وليدې.

ـ الله تعالى فرمايي: ته حرکت وکړه،زه به برکت درکړم.

ـ الم ترکيف دهرچا زده دى،خو خوله دملاعثمان غواړي.

ـ الوتى مرغه په لاس نه راځي.

ـ امانت ځمکه نه خيانتوي.

ـ املوکو تول کې لاړو.

ـ اميد ساتل د الله تعالى څخه ښه دي، نه د بنده څخه.

ـ انا مړه شوه، تبه يې پرې شوه.

ـ انتظار تريخ دى.

ـ انتقاد اسانه،ابتکار سخت دى.

ـ انسان بې وزره مرغه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ انسان تابع د احسان دی.

ـ انسان ترکاڼي کلک ، تر ګل نازک.

ـ انسان ته خبره،خره ته کوتک.

ـ انسان زړېږي،حرص يې ځوانيږي.

ـ انسان له خطا سره ملګری دی.

ـ انسان له سهوې خالي نه دی.

ـ انسان په يوه ورځ پيدا، په يوه ورځ به مري.

ـ انسان کله درياب، کله کرياب کوي.

ـ انسانيت په بيه نه اخيستل کيږي.

ـ انګورو ته يې لاس نه رسيده، ويل يې ترشه دي.

ـ اوبه او اور نه يوځای کيږي.

ـ اوبه هر وخت ښکته رواني وي.

ـ اوبه خو هر ځوک ښکته وړي،زموږ انا سرزورې ده پورته پکې نه وي تللې؟

ـ اوبه د شګو په بند نه بنديږي.

ـ اوبه د پاسه خړې دي.

ـ اوبه په ډانګ نه بيليږي.

ـ اوبه چې ډنډ شي، ګنده کيږي.

ـ اوبه که هر ځومره بندې کړې، خپله لاره پيدا کوي.

ـ اوبه له ورخه تيري دي.

ـ اوبو په غاړه اوبه غواړه.

ـ اور ته خپل او پردی يو دی.

ـ اور ته وچ او لنده يو دي.

ـ اور د خپلې لمنې بليږي.

ـ اور هغه ځای سوزوي، چې اور پرې بليږي.

ـ اور په اور نه مړ کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اور په لمن کې نه وړل کيږي.
ـ اوربشې که د روپۍ سل منه شي، دخره پکې يوه لپه ده.
ـ اوسپنه په اوسپنه ټکول کيږي.
ـ اول يې وايه ، بيا يې امضاء کړه.
ـ اول يې پړ کړه، بيا يې مړ کړه.
ـ اول سلام پسې کلام.
ـ اول خوند دی، بيا شخوند.
ـ اول دخدای حق، بيا دهمسايه حق.
ـ اول زده کړه، بيا کوژده کړه.
ـ اول سوچ کړه، بيا خبره کړه.
ـ اول ځان پسې جهان.
ـ اول کوه احتياط، وروسته مه کوه فرياد.
ـ اولاد هم غم، نه اولاد هم غم.
ـ اوړه يې يو موټی نشته ، شل يې تنورونه دي.
ـ اوږه چې ونه خوري،له خولې دې بوي نه ځي.
ـ اوښ ته رباب مه وهه.
ـ اوښ په بډه نه وهل کيږي.
ـ اوښ په غلبيل نه درنيږي.
ـ بابا به ويل ادې به منل.
ـ باز خانه بې بازه نه وي.
ـ باز چې هر څومره خوار شي، چونګښې نه خوري.
ـ بد بوټی بلا نه وهي.
ـ بد زوی،نه زوی.
ـ بد مه کوه،بد به نه وينې.
ـ برج دې تر اسمانه رسي ، سپي دې له لوړې مري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ بل مه وهه په نوک، تا به ووهي په سوک.

ـ بلا وه، برکت يې نه ؤ.

ـ بې ډوله مه ګډيږه.

ـ بيړه دشيطان کار دی.

ـ بې زحمته راحت نه شته.

ـ بې عقل جمال خوښوي، عاقل کمال.

ـ بې ميوې ونه څوک په تيږو نه ولي.

ـ بې کسه بدي نه شي پاللی.

ـ تاج په هرسر برابر دی خو هر سر د تاج لايق نه دی.

ـ تهداب چې له بيخه کوږ شي،نو تر سره کوږ وي.

ـ تجارت په دماغو شي،نه په پيسو.

ـ تجربه بهترين معلم دی.

ـ تر بوسو لاندې اوبه تيروې.

ـ تر بې غيرته نر،غيرتي ښځه ښه ده.

ـ تر بې عقله دوست، هوښيار دوښمن ښه دی.

ـ ترتبر يې لاستی دروند دی.

ـ تر خوړلو يې اميد ښه دی.

ـ تر ديګ څمڅۍ ګرمه ده.

ـ تر رنګ يې خوند ښه دی.

ـ تر سړې ګټې تود تاوان ښه دی.

ـ تر مړ زمري ژوندۍ ګيدړه ښه ده.

ـ تر وهلو يې په ځغلولو سترې که.

ـ تر پردي زوی خپله لور ښه ده.

ـ ترخه خوره،خو ترخه مه وايه.

ـ تشه لاسه ته مې دوښمن يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ تصمیم د بري لومړی شرط دی.
ـ تللی وخت په لاس نه راځي.
ـ تمه چې پیدا شي،مینه ورکیږي.
ـ ته خو زما په اخور لوی شوی یې.
ـ تیره چې له ځایه وخوځیږي، سپکه شي.
ـ تیږه په خپل ځای درنه وي.
ـ تیره چاړه، نه مخ گوري نه څټ.
ـ تیر به شي،هیر به نه شي.
ـ تیاره د شمعې لاندې وي.
ـ تږی اوبه په خوب ویني.
ـ تیر په تیر،هیر په هیر.
ـ توپک دوست او دوښمن نه پیژني.
ـ تورې چرگې سپینې هگۍ اچوي.
ـ توره که تیره وي،په گوزار به څرگنده شي.
ـ جار تر هغه زویه، چې تر هر چا وي نیک خویه.
ـ جاهل ته دوه ځل سلام کوه.
ـ جاهل ته د علم خبرې مه کوه.
ـ جنگ په وسله،ننگ په غله.
ـ جنگ د جینکو کار نه دی.
ـ د جنگ په میدان کې آسونه نه تیاریږي.
ـ حال د ویلو نه دی،ځای د ښودلو نه دی.
ـ حال منصور وایه،په دار شو.
ـ حرام برکت نه لري.
ـ حرام خواږه وي.
ـ حرام په حرامه لار ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ حساب به کوو،وروری تر منځ.
ـ حق به حقدار ته رسیږي.
ـ حق مې راکه،حق دې واخله.
ـ حق نوم د خدای دی.
ـ حقیقت ویل ترخه دي.
ـ حلق په خپلو لاړو لوند دی.
ـ حکومت سره حکمت ضرور دی.
ـ حیاء کوونکي حیاء کوله،بې حیاء ویل له ما ډاریږي.
ـ حیاء نیم ایمان دی.
ـ خاموشي د رضا علامه ده.
ـ خاني بې نگه ډونگه نه کیږي.
ـ خاورې یوو،خاورې به شو.
ـ خبره د خولې په اندازه کوه.
ـ خبره له خبرې پیداکیږي.
ـ خبره په خبرو خلاصیږي.
ـ خبره دې په گل بدله شه.
ـ خبره لاړه ډنډوره شوه.
ـ خبره زده کړه،بیا یې وکړه.
ـ خبرې ډېرې،سر یې یو.
ـ خبرې لږ کوه،عمل ډېر کوه.
ـ خپل عمل ، دلارې مل.
ـ خپل ښایست، دځان بلا.
ـ خدایه لوی مې کړې،لویي را مه کړې.
ـ خدای تعالی هیچا نه دی لیدلی، په قدرتونو یې پیژني.
ـ خدای دحق ملگری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.ــ خدای د صبرناکو مل دی.
ــ خدای دچا زحمت بې ځایه نه بوځي.
ــ خدای دې ښاد کړه،که په زوی وي که په لور.
ــ خدای شړلی نه سمیږي.
ــ خدای په یو حال دی،خو بنده نه.
ــ خر او آس چا په یو اخور نه دي تړلي.
ــ خیرات ته چې ځې،غټې وریجې به خورې.
ــ د الله دربار لوی دی.
ــ د ایرو لاندې انګار وي.
ــ د بادام په شان مې زړه سوری سوری دی.
ــ د باران نه پټیدمه،د ناوې لاندې مې شپه شوه.
ــ د باز عمر لنډ وي.
ــ د باغوان لاس ګل دی.
ــ د بخیل انسان قبر تنګ وي.
ــ د بدبخته سړي داختر په ورځ په خیټه درد وي.
ــ د بد سړي خبرې هم بدې وي.
ــ د بدو په کار کې، او د مارانو په غار کې لاس مه وهه.
ــ د بدې خبرې سل کاله عمر وي.
ــ د بل غم تر واورې سوړ وي.
ــ د بل حیاء،د ځان حیاء.
ــ د بل په ایمان سړی جنت ته نه ځي.
ــ د بل په لاس مار هم مه وژنه.
ــ د بوسو لاندې اوبه مه تیروه.
ــ د بدبخته انسان غاښ په حلوا کې ماتیږي.
ــ د بیړې کار د شیطان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د بې عقلۍ علاج نه شته.

ـ د توري زخم جوړيږي،خو د خولې زخم نه جوړيږي.

ـ د جومات سړی په جومات کې لټوه.

ـ د جنګ خبرې خوږې، ساعت يې تريخ دی.

ـ د تورې بنګړی نه يې.

ـ د بد سړي خبرې هم بدې وي.

ـ د بل غم تر واورې سوړ وي.

ـ د بې غيرته ځاروي منډه تر اخوره وي.

ـ د خر مينه لغته ده.

ـ د خر څخه د شخوند هيله مه کوه.

ـ د خلکو پرده وکړه،چې الله تعالی ستا پرده وکړي.

ـ د خوار ملا په اذان څوک روژه نه ماتوي.

ـ د خوشحالۍ ياران ډېر وي.

ـ د خير په غونډی ناست دی.

ـ د خوږې ګوتې نه نيول کوي.

ـ د خپل بام واورې د بل به بام مه اچوه.

ـ د خپل کور غل نه نيول کيږي.

ـ د درواغو مزل لنډ وي.

ـ د دوه پيسو شادي، دلس پيسو زنځير يوړ.

ـ د روژې هرماښام اختر وي.

ـ د زرو قدر د زرګر سره وي.

ـ د زمرو غوښې ګيدړانو نه دي خوړلې.

ـ د زمري غار بې هډوکو نه وي.

ـ د زمرو کور بې له زمرو نه وي.

ـ د زړه نه زړه ته لار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ د زړونو مالک الله تعالی دی.
ــ د سبا مړي به سباته خښوو.
ــ د ستنې له سوري چا بار نه دی ایستلی.
ــ د سر دپاسه سر شته.
ــ د سلو بللو ځای وي، دیو نا بللي ځای نه وي.
ــ د سلو سل لارې وي.
ــ د سلو مرغانو یوه تیږه کافي ده.
ــ د سوال ژوند نه مرګ ښه دی.
ــ د سوال نه سوال نه کیږي.
ــ د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځي.
ــ د سیند مړي چا ګڼلي.
ــ د سپي مرګ د ګیدړې اختر دی.
ــ دسپي په خوله دریاب نه چټلیږي.
ــ د سړي لپاره یوه خبره کافي ده.
ــ د سیال خواړه، یا پور دی یا پیغور.
ــ د شیدو سوی،مستې پو کوي.
ــ د شپې هر څوک ډاریږي، څوک حال وایي څوک یې نه وایي.
ــ د شګو څخه پړی نه جوړیږي.
ــ د شیشې درځ نه جوړیږي.
ــ د صبر میوه خوږه وي.
ــ د صبر کاسه مې ډکه شوه.
ــ د ظلم چراغ تر سهاره نه بلیږي.
ــ د ظلم کاسه نسکوره ده.
ــ د غریب سړي دخیرات په ورځ غوا ورکه وي.
ــ د غل میړانه تیښته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د غل په غره کې هم ځای نه وي.
ـ د فيل په غوږ کې ويده يې.
ـ د کور گته، دلاهور گټه.
ـ د لاس تڼاکې ملغلرې دي.
ـ د لاس پنځه گوتې سره برابرې نه دي.
ـ د لمدو خټو لږ اوبه کافي دي.
ـ د لويانو ويل، د ځوانانو کول.
ـ د لټ غوايي اخر ښبنتن قصاب وي.
ـ د ليندۍ نه وتلی غشی بیا نه راځي.
ـ د مشکو بوی نه پټيږي.
ـ د ميلمه بل ميلمه بد راځي.
ـ د نر سړي مرگ د بې غيرته سړي له لاسه وي.
ـ د نن ورځې زوی، د سباورځې پلار دی.
ـ د نوي منگې اوبه خوږې وي.
ـ دنيا چې راتلله ځای ورکوه،چې تلله لار ورکوه.
ـ د هر فرعون په سر موسی شته.
ـ دهر سړي عزت د هغه په لاس کې دی.
ـ د هرې ماتې شاته کاميابي شته.
ـ د هرې شپې پسې ورځ وي.
ـ د هغې بلا څخه مه ويريږه، چې شپه يې ترمنځ وي.
ـ د هيلۍ بچي ته لامبو مه ښايه.
ـ د وچو سره لامده هم سوزي.
ـ د پولۍ ټک ته ناست دی.
ـ د ځنکدن يو ساعت دی،خو سخت ساعت دی.
ـ راتگ په اراده،او بيرته تگ په اجازه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ راستي زوال نه لري.
ـ راکړه په ورکړه خلاصيږي.
ـ رنګ يې مه ګوره،خوند يې وګوره.
ـ رنګ يې د ملا،عمل يې د بلا.
ـ روزي رسان الله تعالی دی.
ـ روزي په زور نه زياتيږي.
ـ روزي په منډه نه ده.
ـ روغ صحت اختر دی.
ـ روغ صحت پادشاهي ده.
ـ زما زويه تر ما لويه.
ـ زما لاس،او ستا ګريوان.
ـ زمری که په پنجره کې هم وي،زمری دی.
ـ زه او ته راضي،څه به وکړي خوار قاضي.
ـ زه خان ته ګورم،خان اسمان ته ګوري.
ـ زه دې باغ نه وينم،ته وايې انار دغه دي.
ـ زه دې په کلي کې نه پريږدم،ته د ملکۍ دعوې کوې.
ـ زه وايم وړه نه شته،ته وايې پتيرې پخې کړه.
ـ زه په تمه، ته بيغمه.
ـ زه څه وايم او دمبوره مې څه وايي.
ـ زور يې په نهمه مياشت وځي.
ـ زوم يې د خسر له نغريه خوري.
ـ زوم باري خر دی.
ـ ستا خبره به ګل بدله.
ـ ستا قدمونه،زمونږ ليمه.
ـ ستاسو سپي زمونږ تبر نه دی راوړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سترګې له سترګو نه شرمیږي.

ـ سر یې زما،مال یې ستا.

ـ سر په ویښتو نه درنیږي.

ـ سر په مال ساته،عزت په دواړو.

ـ سر چې ژوندی وي،خولۍ ډېرې دي.

ـ سل روپۍ په پورکه،د ژمي شپه په کور کړه.

ـ سل زامن د سپي،یو د زمري.

ـ سل کاله دې تیرکړل،د جمعې شپه دې ونه پیژنده.

ـ سالم عقل په سالم بدن کې دی.

ـ سمندر په یوه لپه نه کمیږي.

ـ سیالي د نیکو ښه ده،نه دبدو.

ـ سپی چې لیونی شي،خپل خاوند هم خوري.

ـ سپی هم په خپله کوڅه کې زمری وي.

ـ سپی په ښه کار بد ښکاري.

ـ سپین غر بې واورې نه وي.

ـ سپین نیت،لوی دولت.

ـ سړي ته ګوره،سوال ترې کوه.

ـ سړی هغه دی،چې کار یې د سړو وي.

ـ سړی په سړیتوب،خر په خرتوب ښه ښکاري.

ـ سیالي دسیال سړي په کار ده.

ـ شرمیږي هغه څوک، چې په شرم پوهیږي.

ـ شف ، شف نه شفتالو.

ـ شپني د لیوه کار نه دی.

ـ شپې ورځې خو هغه وې،چې پلارمو ژوندی ؤ.

ـ شی شی نه یې،نوم دې فتح خان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صبا بیا خدای شته.

ـ صبر تریخ دی،خو میوه یې خوږه ده.

ـ صبر د بزرگي نښه ده.

ـ صبر د سپي،زړه د زمري.

ـ صدقه رد بلا ده.

ـ عاجزي غیرت دی.

ـ عاجزي دالله تعالی نعمت دی.

ـ عاقل ته اشارت،کمعقل ته کوتک.

ـ عزت و ذلت  دالله تعالی له لوري دي.

ـ عزت کوه، عزت به دې کیږي.

ـ عقل په پیسو نه اخیستل کیږي.

ـ عیان ته څه بیان.

ـ عیسی په خپل دین،موسی په خپل دین.

ـ غاښ چې رنځور شي،علاج یې امبور شي.

ـ غر دستنې په څوکه نه سور کیږي.

ـ غر که لوړ دی،په سر یې لار شته.

ـ غر په غر نه ورځي،خو انسان په انسان ورځي.

ـ غرور د شکست مقدمه ده.

ـ فقیرانو ته لارې مه ښایه.

ـ فلانی بې قومه بې قبیله دی.

ـ فلانی خو په ایرو کې پټ لعل دی.

ـ فلانی لکه خښته،شپږ مخه لري.

ـ فن د چا میراث نه دی.

ـ قاضي زه ملامتولم،ما ځان نه ملامتوه.

ـ قرض ورکول یو هنر،قرض ا خیستل بل هنر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ قصابان چې ډېر شي،غوا مرداريږي.
ـ قناعت لويه سرمايه ده.
ـ لاس يې تور سپي څټلی.
ـ لاس دې خلاص توره دې تيره.
ـ لاس چې مات شي،غاړې ته لويږي.
ـ لار په مزل لنډيږي.
ـ لامبو په ږيره نه ده.
ـ لمر په دوه ګوتو نه پټيږي.
ـ لمونځ تر قضا د مخه،خيرات تر بلا دمخه.
ـ له بې عقل دوست څخه هوښيار دوښمن ښه دی.
ـ له جنګه زه راغلم خبرې ته کوې.
ـ له خالي لوښي لوی اواز خيژي.
ـ له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځايږي.
ـ له خولې نه دې د شيدو بوی ځي.
ـ له خپلې بړستنې سره پښې غځوه.
ـ له شنه اسمانه باران نه اوري.
ـ له فيلانو سره ټانټې مه ژويه.
ـ د يو لاس څخه ټک نه خيژي.
ـ له څاڅکو څخه سيند جوړيږي.
ـ له ښاره وځه،خو له نرخه مه وځوه.
ـ ليوه ته چې نصيحت وکړې،په هغه ورځ دوه خوري.
ـ ليدل تر اوريدلو فرق لري.
ـ ما ته د يو لاس ګوتې دي.
ـ ما خو داسې ورځ له خدايه غوښته.
ـ ما په اسمان غوښتې الله په ځمکه راکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مات لاس غاړې ته لويږي.
ـ مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوه.
ـ مار خو نه يم چې خاورې به خورم.
ـ مار چې هر څومره کوږ لاړشي، غار ته سميږي.
ـ مال دې لاړ شي،سر دې لاړ شي خو پت دې نه ځي.
ـ ماهي چې خوله خلاصه کړي،نيول کيږي.
ـ مرغان دانه ويني،لومه نه ويني.
ـ مرغۍ چې له سيله بيله شي،باديې وړي.
ـ مرگ هم د ډېرو لپاره پرده ده.
ـ مرگ او روزي دواړه حق دي.
ـ منگی يو ځل ماتيږي.
ـ مستې هم خرڅوې،مخ هم پټوې.
ـ ملا مړ،مال يې تالا.
ـ ملکان چې ډېر شي،کلی ورانيږي.
ـ نا اميده د خدای له درباره محروم دی.
ـ نا بلده غل غوجل ته ننوځي.
ـ نا راسته سړی په وچه ځمکه ښويږي.
ـ نه دې په تلو خبريم،نه دې په راتلو.
ـ ننگيالي دي،چې ياديږي.
ـ نه د دين شوې،نه د سادين.
ـ نه سيخ سوی،نه کباب.
ـ نوی نوکر په منډه هوسۍ نيسي.
ـ نيمچه ملا سړی کفر ته اوباسي.
ـ نيت صفا،منزل اسان.
ـ نيک عمل به دې پاچا کړي،بد عمل به دې رسوا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هر تندی د سجدې لایق نه دی.
ـ هر درد لره دوا شته.
ـ هر سور ږیری ملاشاه ګل نه دی.
ـ هر شی زوال مومي،بې له خدایه.
ـ هر ځلیدونکي ته ملغلره مه وایه.
ـ هر څه چې له حده تیر شي،رسوا کیږي.
ـ هر څوک خپل شی ښاغلی بولي.
ـ هر څوک په ښه ورځ دوست دی.
ـ هرڅوک چې اوزګار شي،یاغل شي یا بیمار شي.
ـ هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.
ـ هیڅ ګل بې ازغیه نه شته.
ـ هیڅ څوک له خپل مرګه نه دی خبر.
ـ هوښیار په تیرو پسې ډېر نه ګرځي.
ـ هندو سترې خدای ناراضه.
ـ هندو زوړ شو،مسلمان نه شو.
ـ هم خرما،هم ثواب.
ـ هله به خبر شې،چې تارو جبې له ورشې.
ـ هغه سپی چې ډېر غاپي،خوړل نه کوي.
ـ هغه ساعت هغه یې مصلحت.
ـ هغه دروغ مه وایه،چې سبا رینښتیا کیږي.
ـ هر کلال وایي،زه ښه منګی جوړوم.
ـ هر ژوندی مرګ لره پیدا دی.
ـ واده ته واده ګی مه وایه.
ـ وخت د چا انتظار نه کوي.
ـ وخت د اوبو په څیر بهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وخت لکه سره زر.

ـ وخت ښه قاضي دی.

ـ وربه شي،خبر به شي.

ـ ورانه اسانه ده،خو جوړه سخته ده.

ـ وزه له لیوه نه تښتیده،له قصاب کره ننوته.

ـ وسله کومه وسله،چې په کار درغله.

ـ ونه له خپل منځه ورستیږي.

ـ ونه په پاڼو ښه ښکاري.

ـ چا بللي ،چې ګډیدلې.

ـ چاته چې شی نه ورکوې،مه یې وربښکاره کوه.

ـ چیرته چې ډب نه وي،هلته ادب نه وي.

ـ چرګ د مالګې په څټلو څه پوهیږي.

ـ چې اوبه وي،تیمم ته څه ضرورت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مأخذونه

- بخاري شريف
- مسلم شريف
- ترمذي
- ابوداؤد
- ابن ماجه
- مشکوة
- د راشدو خليفگانو ويناوې
- غوره خبرې
- درنې درغنې
- د پوهانو ويناوې
- ۱۳۹۷ غوره خبرې
- د امام ابوحنيفه رحمه الله نصيحتونه
- د لقمان حکيم رحمه الله نصيحتونه
- د پوهانو اندونه
- د پوهانو ښايسته خبرې
- او گڼ نور...

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**